مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

داکتر ص . سعیدی

۲۰۲۵/۱۰/۰۹

# طالب مشرانو ته خطاب!

دلته نن سبا د ټولو نه د مخه طالب مشرانو ته خطاب کوم !
په تېرو او روانو حالاتو کې نړۍ داسې سره تړلې ده چې بو اړخیز ژغورل نه شته !
دا ددې مانا نه لري چې که د پنجابي استابلشمنت پلان عملي نه شو، نو ژغورل نه شته !
طالب حاکمیت که ځان نه شوو ژغورلای نو بیا به پنجاب ورته لا غلای او چپه وه! خو اوس داسې ښکاري چې حالات د پنجاب په خوښه نه دي او دا د پنجاب له نظره د شېدو غوا ( افغانستان کې حالات ) یې له لاسه وځي، ددوی ۵۰ کلنه د جنګ او جګړې ټیکه ختمېږي او دوی چې د جګړو په ټېکو مست جنرالان کله په اردن کې ۶۰ زره مسلمان فلسطینیان شهیدان کړل او ډالرې یې واخیستل (جنرال ضیاء) ، او کله د سړې جګړې په دوران د روس په مقابل کې د دوه مخي او درمخي سیاست په پایله کې، موټروې او د اتومي بمب او بهر کې د جایداونو او جزائرو، خاوندان شول، مظلومان او افغانان یې شهیدان کړل او بیا کله چټله درې پلوه لوبه داسې ولوبوله او لیا لوبوپې چې هم تروریست ایجاد، هم پرچون پروشي او هم د ترور او دهشت د عمده او پرچون صدور لار یې مخ ته ونیوله! د نړۍ په هر ګوټ کې انتحار او انسان وژنې لینک اوسنې پاکستان ته رسي! او اوس چې د نړېوال بانک مفلس قرضداره دي او د خپلې مور سودا ته هم دا پاکستاني جر نیلان، تیار کړای شوي، اول به د أټومي وسلو کلي تسلیموي او بیا به عربي هېوادو، یمن او افغانستان کې د کرایه ټټوانو رول اداء کوي او بیا نوې هرې خاینانه د وینو او باروتو ټېکې ته آماده وي، چې دي !
نو داسې حالاتو کې په افغانستان او سیمه کې طالب حاکمیت ته په کار ده چې له توتالیتې او ټول زما سیاسته لاس واخلي او ملت په سترو پرېکړو کې شریک کړي او د بیا پنجابی مداخلې او جنایاتو مخه ونیسي !
که د افغان طالب په حال رانشي، د تصامیمو کې د ملت له شریکولو لکه دا تر اوسه، لاس وانه اخلی او ملت له ځانه سره مشروع شریک نه کړي، نو أه بیاد ولرئ چې د پنجابي جنرالانو او د هغوی ملکي متحدینو ( د پاکستان د ملکي حاکمیت او نظانیانو په بڼه ) درې مخي سیاست بله پرده راتلونکې ده!
نو دغه فاینل جګړې کې، په اوسني ناروا پاکستان کې مېشت اسیر ملتونه خپل سرنوشت ټاکي او دا د پاکستان په نامه غېر طبعي موجود، وجود ته خاتمه ورکولو وخت راغلای دی! دغه حالاتو کې موضع او لارې، تاکتیکونه او تدابیر سخت محتاط دقت ته اړتیا لري !
دا پوره هوښیارتیا او لازمه تجربه او پوهه غواړي او دا پوهه او تجربه په سیمه کې شته او د پنجاب تسلط به ختمېږي !
افغانستان ته نږدې او متحد پښتونستان به د پنجاب د تسلط د ختم سره جوښت، جوړېږي او ددوي طبعي ېووالي کې د افغان پلرني وطن سره، له آمو تر أباسینه، ېوه خاوره، ېوه وینه کې واړه واړه مسایل د حل وړ دي او دا د ورور او خور حساب زه د متمدن عدالت پر بنیاد وینم او کېږي به !
زه ددغو مسایل د حل کلید د بشري شته تحربو په رڼا کې وینم! هغه زمونږ تأ یخی شعار او غوښتنه خو پر ځای پاتې او شته: له آموتر أباسینه، ېوه خاوره، ېوه وینه !
زه دغه برخه کې کوم بنیادي کړکېچ نه وینم! لوی افغانستان، اروپا ته ورته لوی اتحاد او نور متمدن جوړښتونو امکانات کاملاً موجود دي !
نو پښتنو، بلوڅو، سرایکیو، سندهیانو او حتی د پنجاب مظلوم عامه ملت ته په کار ده چې ددې طبعي پروسې او عادلانه آزادو جوړښتونو او مشروع مظلومو خلکو د عادلانه اتحاد او له ظلمه د خلاصون لار کې سره لاس ورکړي !
لوی افغانستان کې به د ملت د غوښتونو سم، عادلانه، ملت سالاره اسلامي نظام قایمېږي( ان شاء الله تعالی) !



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ټولي خواوې أو په ستره کچه د سيمي طالبان بايد له انحصاره لاس واخلي! زه نه وايم چي له خپلو سپينو او ديني اعتقاداتو او ارمانو نو تېر شي! زه وايم هغه دې تطبيق کړي چي مشروعيت او د خلکو د ارادې پر بنياد ورته مشروعيت تر لاسه کېږي !

د افغان مسلمان ملت انتخاب به د طالب او ملا د لارښووني لاندې د اسلام په چوکاټ کې وي او ( ان شاء الله) ، دی ! طالب مشران که سرتمبه پاتې شول او له لجاجته، انحصار او تيراني کړو پر دوام ټينګار وکړي، فرصتونه به له لاسه ولاړ شي، افغان وينه نوره هم به ناروا تويه او د پنجابي جنرالانو جيبونه به لکه پخوا په شان ډک او دا سيمه او افغان ستر ملت به خپلې مشروع آزادۍ ته ونه رسي !

اوس اوس انتخاب د طالبانو لاس کي دی، چي کومه لار خپلوي؟ لجاجت کوي، ميم زور ما، ټوله زما او د تباهى لار نيسي او که د اسلام د اصولو سره سم ملت ته غاړه غږی او مراجعه کوي !

د پنجاب او دښمنانو دسايس خنثى کوي او ملت غبږ کي نيسي !

طالب مشرانو انتخاب ستاسو دی! د پنجاب او جنرالانو په انتخاب خبر يو !

و ما علينا الا البلاغ المبين!

داکتر صلاح سعيدي



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ